**د تضمین کیفیت امریت**

## وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه

## د  کیفیت لوړاوي آمریت

وردګ د لوړو زده کړو مؤسسي دکیفیت لوړاوي آمریت په ۱۳۹۹ هجري شمسي کال کې په غیر رسمي ډول په فعالیت پیل وکړ،  او د ۱۴۰۱ کال کې  د لوړو زده کړو وزارت له خوا په رسمي ډول په ددې مؤسسې په تشکیل کې د کیفیت لوړاوي داخلي واحد ایجاد شو ،چې  تر اوسه یې د علمي،تحقیقي او اداري چارو د کیفیت لوړاوي په برخه کې ورځ تر بلي تغیرات منځته راځي او کوښښ کوي چې د مؤسسې د رئیس، مرستیالانو او د پوهنځیو له رییسانو سره په مشوره د کیفیت لوړونې د (۱۱) اصلي او (۴۸) فرعي معیارونو په تطبیق کولو سره د سیمې په کچه د لوړ اعتبار لرونکی تحصیلي مرکز شي. په ورته مهال کې یاد آمریت هڅه کوي چې له رئیس، مرستیالانو او د پوهنځیو له رییسانو سره په مشوره د پوهنځیو د علمي او تدریسي چارو څار او کنترول کړي، اړوندې سرچینې ته د نورو اجراآتو لپاره د کیفیت لوړاوي د کمېټې مکتوبونه او پرېکړې واستوي او  همدا ډول نورې هغه دندې سرته رسوي چې د کیفیت د کنترول په موخه د خپل امر له خوا ورکول کېږي.

د پورته چارو د ښه ترسراوي په موخه وردګ د لوړو زده کړو مؤسسې د کیفیت لوړاوي امریت، د کیفیت لوړاوي کمیټه او همدارنګه یې په پوهنځیو کې د کیفیت لوړاوي فرعي کمېټې هم په کار بوختي دي.

### لاسته راوړنې

دلوړو زده کړو وزارت د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې د ریاست له لورې د اعتبار ورکونې د لمړۍ مرحلې ترلاسه کول.



وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه

د کیفیت لوړاوي آمریت

## وردګ د لوړو زده کړو مؤسسه کې د کیفیت لوړاوي او اعتبار ورکونې د چوکاټ تفسیر

## لمړی (۱) معیار: ماموریت او ستراتیژي

### 1.1 ماموریت یا مرام

د لوړو زده کړو موسسه د ماموریت یو منظور شوې او رسمي مرام نامه/ د ماموریت بیانیه لري.

تحصیلي موسسه د ماموریت یوه څرګنده کړنلاره لري چې د لوړو زده کړو وزارت له لوري تصویب شوې ده او د ټولو خلکو د لاسرسي وړ ده.

پر دې سربېره، هر پوهنځي او څانګه د ځان لپاره د ماموریت کړنلاره لري چې د اړونده شورا څخه به یې منظوري اخیستي وي او عام خلک به ورته لاسرسی لري.

### 1.2 ستراتیژیکه پلان جوړونه

د لوړو زده کړو موسسه په هرو پنځو کلونو کې یو ستراتیژیک پلان پر مخ بیایي او هغه به پلی کوي.

د لوړو زده کړو موسسه به استادان، محصلین او داسې نورې مهمې ښکیلې خواوې په رسمي پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې شاملوي چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا به منظور شوی وي.

بر سېره پر دې، هر پوهنځی او څانګه ځان ته اهداف لري چې د اړونده شورا لخوا به منظور شوي وي.

### ۱/۳ تطبیقي پلان جوړونه

د لوړو زده کړو موسسه به خپل کارکوونکي د یو کلن تطبیقي پلان په جوړولو کې ښکیلوي – یاد پلان به روښانه کوي چې څرنګه د ستراتیژیک پلان مهم هدفونه ترلاسه او یا ترلاسه کېدای شي.

د لوړو زده کړو موسسه به خپل کارکوونکي د یو کلن تطبیقي پلان په جوړولو کې ښکیلوي.

سربېره پر دې ، هر پوهنځی او څانګه به یو کلن تطبیقي پلان لري چې د پوهنتون رییس او یا د پوهنځي د رییس لخوا به منظور شوی وي.

### ۱/۴ د سازمان اغېزمنتوب

د لوړو زده کړو موسسه به په دوامداره توګه د خپلو چارو اغېزمنتوب او موثریت ته ښه والی ورښښي.

د لوړو زده کړو موسسه د کلني تطبیقي پلان په برخه کې استادان ارزونې ته هڅوي او په دې توګه هغه برخې په ډاګه کوي چې په راتلونکي تطبیقي پلان کې باید پکې اصلاحات او سمونې راوستل شي.

بر سېره پر دې،هر پوهنځی او څانګه د کلنی ارزونې په منظور خپل بهیر لري – چې د هغې لارې به د سمون وړ برخې چې د پوهنځي یا څانګې د راتلونکي کال پلان به منعکسوي، په ډاګه کېږي .

**۱/۵ عمومي معلومات**

د لوړو زده کړو موسسه د خپل ماموريت، ستراتيژی، پالیسيو او د چارو د تنظيم په اړه عامو خلکو ته معلومات وړاندې کوي.

د لوړو زده کړو موسسه به په بېلابېلو بڼو د خپل ماموريت، ستراتيژی، پالیسيو او د چارو د تنظيم په اړه عامو خلکو ته معلومات وړاندې کوي.

سربېره، پر دې د لوړو زده کړو موسسه د ويب سايټ او نورو رسنيو له لارې د خپل ماموريت، ستراتيژيو او د چارو د تنظيم په اړه د خلکو سره معلومات شريکوي ترڅو ټولې ښکيلې خواووې معلوماتو ته لاسرسی ولري.

## دوهم (۲) معيار: په ټولنه او پراختيا کې ګډون

**۲/۱ ماموريت او ستراتيژيک پلان جوړونه**

د لوړو زده کړو موسسه به په ټولنيز ، اقتصادي او کلتوري پراختيا کې د يوه بنسټ په توګه رول لوبوي.

د لوړو زده کړو موسسې ستراتيژيکه پلان جوړونه او د ماموريت بيانيه هغه هدفونه په ځان کې رانغاړي چې ټولنې ته به ګټور وي او همدارنګه په ملي، سيمه ايزه او منطقوي پراختيا او پرمختګ کې به برخه واخلي.

د دې ترڅنګ ، د هر پوهنځي د ستراتيژيک پلان او ماموريت بيانيه به هغه هدفونه په ځان کې رانغاړي چې د ټولنې لپاره به ګټور وي او همدارنګه په ملي، سيمه ايزه او منطقوي پراختيا او پرمختګ کې به برخه واخلي.

**۲/۲ اکاډميک فعاليت**

څېړنيز او تدريسي پروګرامونه به د لوړو زده کړو د موسسې مرام – د ټولنيزې، اقتصادي او فرهنګي پراختيا د يوه بنسټ په توګه انځوروي.

د لوړو زده کړو موسسه به د خپلو علمي او څېړنيزو پروګرامونو ټاکل شوې ګټې په روښانه توګه ټولنې، سيمې او منطقې ته څرګندوي.

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه به ډاډ حاصلوي چې د پوهنځي په سطحه کلنۍ ارزونه د پروګرام اغيزې پر سيمه ايزه، ملي او منطقوي کچه او همدارز د پروګرام اغيزې پر ټولنې تر ارزونې لاندې نيسي.

**۲/۳ د کارکوونکو ښکيلتيا او برخه اخيستنه**

ټول استادان او اداري مامورين اړتياوو ته په کتو سره په هغو فعاليتونو کې ښکيليږي چې هغه په ملي، سيمه ايزه او منطقوي کچه پراختيا ته ګټور وي او د هغې د پرمختګ لامل ګرځي.

د پوهنځي زياتره استادان او مامورين به د مناسبو انفرادي موخو لرونکي وي چې د استادانو ياد انفرادي هدفونه به بيا د ملي، سيمه ايزې او منطقوي پراختيا ته ګټور وي او هغې سره به تړاو او اړيکه لري.

سر بېره پر دې، د استادانو او مامورينو ونډه اخيستنه په ټولنه، سيمه ايزه، ملي او منطقوي پراختيا کې د هغوي اجرااتو په ارزونه کې شامله ده.

**۲/۴: د محصلينو ګډون**

محصلين د ټولنې په وړاندې د تحصيلي موسسې د مسووليتونو او ژمنتياوو په اړه پوهېږي او هڅول کېږي چې د امکان تر بريده په مستقيم ډول په هغه کې ګډون وکړي..

ټول محصلين به د ټولنې، سيمه ايزې او منطقوي پراختيا په اړه د لوړو زده کړو موسسې د ماموريت، ستراتيژيو او کړنو په اړه پوهه او خبرتيا لري.

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه به هڅه کوي ترڅو محصلين په مستقيم ډول د تحصيلي نصاب او يا تحصيلي نصاب څخه بهر فعاليتونو له لارې په ټولنيزه،،سيمه ايزې، ملي او منطقوي پراختيا اخيستنه کې ښکيل کړي.

## درېيم (۳) معيار: رهبري او اداره

### ۳/۱ د چارو تنظيم

د لوړو زده کړو موسسې د چارو د تنظيم لپاره مناسب او اغيزناک جوړښتونه را منځته کړي ترڅو په خپل وخت د خپل ستراتيژيک پلان او ماموريت د تطبيق څخه څارنه وکړي.

د لوړو زده کړو موسسې د کمېټې يو اغيزناک جوړښت را منځته کړی او د هرې کمېټې لپاره يې د دندو يوه لايحه هم جوړه کړې ده.

د دې ترڅنګ ، ياده موسسه په منظم ډول د هرې کمېټې اجراات او فعاليتونه ارزوي تر څو اطمينان حاصل کړي چې د يادو کميټو ټولې چارې په مؤثره او مناسبه توګه تنظيميږي.

### ۳/۲ مشري

د لوړو زده کړو موسسه د يوه پياوړي او موثره رهبري کوونکي او مديريتي ټيم لخوا اداره کيږي.

د پوهنتون رئيس ، د پوهنتون مرستيالان، د پوهنځي رئيس، د پوهنځيو مرستيالان او د څانګو امرين بايد د پوره ورځې کارکوونکو په توګه استخدام شوي وي او د خپلو چارو د ترسره کولو لپاره بايد د مشرۍ او مديريت وړتياوې لري .

همدارنګه د پوهنتون د رئيس ، د پوهنتون د مرستيالانو، د پوهنځيو د رئيسانو ، د پوهنځيو مرستيالانو او څانګو د آمرينو رول د رهبرانو په توګه به د اجرااتو د ارزونې په بهير کې تر ارزونې لاندې نېول کيږي.

### ۳/۳ اداره

د لوړو زده کړو مؤسسې اداره خپلې ټولې هڅې د ماموريت او د مؤسسې د ستراتيژيکو لومړيتوبونو پر تطبيق باندې متمرکزې کوي.

د لوړو زده کړو مؤسسې د هرې پوهنځی اداره خپلې ټولې هڅې د ماموريت او د پوهنځی د ستراتيژيکو لومړيتوبونو پر تطبيق باندې متمرکزې کوي.

برسېره پر دې، د څانګو اداري نظم په منظم ډول تر ارزونې لاندې نېول کيږي تر څو ډاډ ترلاسه شي چې د ټاکل شوي هدف او غوښتونو پر اساس فعاليتونه کوي.

### ۳/۴ اخلاقي اصول

د لوړو زده کړو مؤسسه هڅه کوي چې د اخلاقي اصولو پر بنیاد عمل وکړي- یعنې له فساد، توکمپالنې او نورو علایقو څخه ډډه وکړي او د شفافیت، جنډر مساوات او په خپلو ټولو چارو کې د عادلانه چلند څخه اطمینان حاصل کړي.

د لوړو زده کړو مؤسسه رسمي بهیرونه لري چې د هغې له مخې دا ډاډ ترلاسه کېږي چې ټول کارکوونکي او محصلین اخلاقي سلوک او چلند درک کوي او د سرغړونې په صورت کې د هغې په پایلو پوهیږي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه د یو مؤثر میکانیزم څخه استفاده کوي ترڅو د ټولو کارکوونکو او محصلینو اخلاقي سلوک او چلند تر څارنې لاندې ونیسي.

## څلورم (۴) معیار: مالي سرچینې او اداره

### ۴/۱: مالي پلان جوړونه

د لوړو زده کړو مؤسسه به اطمینان حاصلوي چې د مؤسسې پلانونه د ستراتیژیکو هدفونو سره سمون لري او د یادو هدفونو په تر لاسه کولو متمرکزه دي.

د لوړو زده کړو مؤسسه پنځه کلن مالي پلان لري چې د ستراتیژیکو هدفونو سره به په مطابقت کې قرار لري او یاد هدفونه به د مؤسسې په ستراتیژیک پلان کې روښانه شوي وي.

برسېره پر دې، د پنځه کلن مالي پلان په جوړونه کې به اداري مرستیال د پوهنتون نورو مرستیالانو او د پوهنځیو رییسانو ته د ګډون بلنه ورکوي.

### ۴/۲ مالي مدیریت

د لوړو زده کړو مؤسسه به اطمینان حاصلوي چې کلنۍ بودیجه په موثره توګه اداره کیږي.

د کلنۍ بودویجې د تنظیم او مدیریت په برخه کې د پوهنتون اداري مرستیال څرګند مسوولیتونه او دندې لري او علمي چارو شورا (Academic senate) ته به په درې میاشتنۍ توګه راپور وړاندې کوي.

د دې ترڅنګ ، د پوهنتون اداري او مالي مرستیال به د پوهنځیو رئیسانو، د څانګو امرینو او داسې نورو ښکیلو خواوو سره په سلا او مشوره د پوهنتون لپاره کلنۍ بودیجه چمتو کوي.

### ۴/۳: مالي سیستمونه

د لوړو زده کړو مؤسسې د مالي مدیریت او حسابدارۍ لپاره موثره سیستمونه جوړ او رامنځته کړي دي.

د لوړو زده کړو مؤسسه په موثره توګه د مالي مدیریت د یو سافټویر د سیستم څخه استفاده کوي ترڅو خپل حسابونه اداره او مدیریت کړي.

برسېره پر دي، د لوړو زده کړو مؤسسه باید د دې وړتیا ولري چې په ستراتیژیکه پلان جوړونه او راپور ورکونه کې د مالي مدیریت له معلوماتواو اطلاعاتو څخه استفاده وکړي.

### ۴/۴ د حسابونو تفتیش

د لوړو زده کړو مؤسسې لګښتونه او عواید به هر کال تر تفتیش او بررسی لاندې نیول کیږي.

د لوړوه زده کړو مؤسسه باید د خپلو درېو پخوانیو کلونو د بررسی ملي او منطقوي راپورنه د ځانه سره ولري.

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه به د بررسی د راپورونو څخه استفاده کوي ترڅو په خپلو مالي سیستمونو او مالي مدیریت په بهیر کې اصلاحات را منځته کړي.

### ۴/۵: د عوایدو راټولول

د لوړو زده کړو مؤسسه به خپل ظرفیت لوړوي ترڅو د خدماتي فعالیتونو او پانګونې له لارې عواید راټول کړي.

د لوړو زده کړو مؤسسه به د خپلو خدماتي فعالیتونو او پانګونې له لارې داسې برخې په ګوته کړي ترڅو د هغې لارې عواید راټول کړي.

د لوړو زده کړو مؤسسه به پانګونې لپاره یو پلان لري – کوم چې به د ستراتیژیک پلان یوه برخه وي او د دې موخې لپاره به لازم ګامونه پورته کوي ترڅو د پوهنتون ظرفیت لوړ کړي او دغه ستراتیژي تطبیق کړلای شي.

## پنځم (۵) معیار : علمي پروګرامونه

### ۵/۱ د ماموریت سره سم پرمخ تلل

ټول تحصیلي پروګرامونه د لوړو زده کړو مؤسسې د مرام سره سمون او مطابقت لري.

د ټولو پروګرامونو ځانګړنې به په روښانه توګه تشریح کوی، چې څرنګه یادې ځانګړنې د لوړو زده کړو مؤسسې د مرام په لاسته راوړلو کې برخه اخلي.

د لوړو زده کړو مؤسسه یو میکانیزم لري چې هغه څرګندوي «څرنګه تحصیلي پروګرامونه د لوړو زده کړو مؤسسې د مرام په لاسته راوړلو کې برخه اخلي».

### ۵/۲ د اړتیاوو وضاحت

ټول تحصیلي پروګرامونه په روښانه توګه د فراغت لپاره لازم شرایط او اړتیاوې لري او یا به د فراغت په موخه لازم مهارتونه را منځته کوي.

د پروګرام ټولې ځانګړنې په روښانه توګه د کریډټ جوړښت او د کریډت د ترلاسه کولو کچه بیانوي کوم چې د فراغت لپاره لازم بلل کیږي.

بر سېره پر دې، د پروګرام ټولې ځانګړنې په روښانه توګه د دې ښودنه کوي چې «څرنګه په هر پړاو کې پوهه او مهارتونه پراختیا پیدا کوي او هغه مهارتونه چې د فراغت پر مهال به را منځته شوي وي، هم بیانوي».

### ۵/۳ د پروګرام څخه په کلنی توګه څارنه او نظارت کول

د ټولو تحصیلي پروګرامونو څخه په کلنی توګه څارنه تر سره کیږي او یاده دې وي چې نوموړې څارنه د لوړو زده کړو وزارت د یوه رسمي کلني څارونکي او ارزونکي پروګرام پر مټ تر سره کیږي.

ټول پروګرامونه به د لوړو زده کړو وزارت د یوه چک لېست له لارې په کلني ډول تر نظارت لاندې ونیول شي- پدې ارزونه کې به د هغو اطلاعاتو څخه هم استفاده وشي چې د محصلینو څخه ترلاسه کیږي او د محصلینو غبرګون یا نظریات به هم په نظر کې ونېول شي ترڅو د پروګرام اجراات تر ارزونې لاندې ونېول شي.

برسېره پر دې، د کلني اصلاحي پلان پروګرام به د پروګرام وړاندې کولو ظرفیت او د محصلینو تجربې لوړوي او د پروګرام ټیمونه کولای شي چې د زده کړو د سمون شواهد وړاندې کړي.

### ۵/۴ د پروګرام ارزونه

د پروګرامونو پورتفولیو( د سوابقو دوسیې) او د ټولو علمي پروګرامونو تحصیلي نصابونه به په هرو پنځو کلونو کې یو ځل تر بیاکتنې او غور لاندې نېول کیږي؛ البته یاده چاره به د لوړو زده کړو وزارت د منظورۍ او د رسمي پروګرامونو د ارزونې له لارې ترسره کېږي.

د لوړو زده کړو مؤسسه به د لوړو زده کړو وزارت د نوبتی ارزونو د پروګرامونو بهیر تطبیقوي څو ډاډ ترلاسه کړي چې د ټولو علمي/تحصیلي پروګرامونو تحصیلي نصاب په هرو پنځو کلونو کې یو ځل مرور کېږي، تر څو بهرنې بدلونونه په کې آنځور پیدا او همدارنګه ډاډ ترلاسه شي چې یاد بدلونونه له تحصیلي رشتې، مسلکي او نړیوالو معیارونو سره سمون لري.

همدارنګه د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو تحصیلي پروګرامونو د پورتفولیو په اړه ټولې ستراتیژیکې پرېکړې د هغو موندنو پر اساس تر سره کوي چې د پروګرامونو د نوبتي ارزونو پر مهال ترلاسه شوې وي

### ۵/۵: پیداګوژي

هغه تدریسي میتودونه یا میتودولوژي چې په تحصیلي پروګرامونو کې د زده کړې لپاره کارول کېږي او د محصلینو د زده کړې کچه لوړوي، په منظم ډول آپډېټ یا تازه کیږي.

د پروګرام ټول ټیمونه په دوامداره توګه هڅه کوي ترڅو په خپلو پیداګوژیکو فعالیتونو/ د تدریس د میتود په برخه کې ټول ممکنه اصلاحات په ډاګه او په هغې کې سمونونه را منځته کوي.

بر سېره پر دې، د پروګرام ډېرۍ ټیمونه د شاګرد محورۍ زده کړو اصولو څخه استفاده کوي او په خپله پیداګوژۍ کې د هغې څخه کار اخلي.

### ۵/۶ ارزونه

هغه میتودونه چې د محصلینو د زده کړې د ترلاسه کولو په موخه کارول کېږي، عادلانه، شفاف او په منظم ډول آپډېټ کیږي.

د پروګرام ټولې ځانګړنې روښانه کوي چې « هر ماډیول یا درسي مضمون به څرنګه ارزول کیږي او د داسې لارو چارو څخه به پکې ګټه اخیستل کیږي څو محصلین اړ کړي چې په کافي اندازه خپل مهارتونه او پوهه ننداری ته وړاندې کړي».

د دې ترڅنګ، د پروګرام ټول ټیمون کولای شي خپلې وړتیاوې څرګندې کړي ترڅو محصلینو ته په خپل اصلاحي نظریات/ فیډبک وړاندې کړي.

### ۵/۷: بریښنایي زده کړه

د لوړو زده کړو مؤسسې د الکترونیکي زده کړو د چمتو کولو او وړاندې کولو په موخه خپل ظرفیت لوړ کړی دی.

د لوړو زده کړو مؤسسه په خپل ستراتیژیک پلان کې د بریښنایي زده کړو د را منځته کولو په موخه یوه ستراتیژي لري او د هغې د تطبیق په موخه یې ګامونه اخیستي دي.

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه په فعاله توګه د بریښنایي زده کړو د رامنځته کولو او وړاندې کولو لپاره کار کوي او د دې موخې لپاره یو میکانیزم لري ترڅو محصلینو ته د بریښنایي زده کړو زمینه چمتو کړي.

**۵/۸ د همکارۍ توامیتونه**

د لوړو زده کړو مؤسسه خپل ظرفیت لوړوي تر څو د افغانستان په دننه او بهر کې د لوړو زده کړو مؤسسو سره توامیتونه را منځته کړي.

د لوړو زده کړو مؤسسه په افغانستان کې دننه او له افغانستان څخه بهر د لوړو زده کړو مؤسسو سره د همکارۍ توامیتونه په موثره توګه تنظیموي. یاده چاره به د لوړو زده کړو مؤسسې سره د ستراتیژیکو موخو په لاسته راوړولو کې مرسته وکړي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه به د نړیوالو همکاریو د را منځته کولو په موخه په خپل ستراتیژیک پلان کې یو پراختیایي پلان ولري او همدارنګه د هغې د تطبیق لپاره باید ګامونه پورته کړي.

## شپږم (۶) معیار: څېړنه

**۶/۱ ستراتیژۍ او پلان جوړونه**

د لوړو زده کړو موسسې په ستراتیژیک پلان کې د څېړنیزو فعالیتونو را منځته کول شامل دي.

د لوړو زده کړو موسسه یو پراختیایي پلان لري ترڅو د هغو څېړنو څخه ملاتړ وکړي چې د استادانو لخوا ترسره کېږي.

سر بېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه د څېړنې په اړه ځیني اهداف لري او په فعاله توګه د هغو پروژو په څېړنو کې بوخت وي چې لوړه کچه اغیزې ولري؛ البته څېړنې به د لوړو زده کړو وزارت د څېړنې د کمیټې د لارښوونو سره سمې تر سره کیږي.

**۶/۲ کلتور او تمې**

د لوړو زده کړ مؤسسه به ډاډ حاصلوي چې ټول استادان به د تحقیقي فعالیتونو د اړتیا وړ مقرراتو په اړه پو هه لري

چېرې چې لازم لیدل کیږي، څېړنیز فعالیت او د څېړنیزو مهارتونو په برخه کې د استادانو ظرفیت لوړول به د هغوی په انفرادي کاري پلانونوکې ځای پر ځای شوي وي.

د اړتیا په صورت کې ، د استادانو څېړنیز فعالیتونه او د څېړنیزو مهارتونو را منځته کول د اجرااتو د ارزولو په بهیر کې مرور او بیا کتل کېږي .

**۶/۳ د څېړنې نظارت**

د لوړو زده کړو مؤسسه د استادانو ظرفیت لوړوي، ترڅو د هغو محصلینو د څېړنیزو فعالیتونو څخه څارنه وکړي چې څېړنه تر سره کوي.

د لوړو زده کړو مؤسسه یو پراختیایي پلان لري ترڅو استادان پدې وتوانیږي هغه مهارتونه پیدا کړې چې په نتیجه کې وکولای شي په مناسبه توګه د محصلینو د څېړنیزو فعالیتونو څخه څارنه وکړي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه رسمي میکانیزمونه لري ترڅو د محصلینو د څېړنیزو فعالیتونو څخه ملاتړ وکړي.

**۶/۴ حمایه**

د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو کارکوونکو ظرفیت لوړوي ترڅو د څېړنیزو فعالیتونو څخه ملاتړ وکړي.

ټولو پوهنځیو ځېرنیزې کمېټې رامنځته کړي دي چې د پوهنځي په کچه د پلان جوړوني او ملاتړ مسوولیت به پر غاړه لري.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه به د ځېړنې لپاره یو دفتر جوړوي او د هغې لپاره به امر او مامورین هم په دنده ګماري تر څو د ځېړنې اړونده چارې همغږې او مالي مسایل (بلاعوضه مرستې) او فکري ملکیت چارې یې تنظیم کړي.

**۶/۵ ښوونه او روزنه**

د لوړو زده کړو مؤسسه به د خپلو استادانو ځېړنیزو مهارتونو او وړتیاوو ته پراختیا ورکوي.

د لوړو زده کړو مؤسسې د ملي او مؤسساتي روزنیزو پروګرامونو څخه استفاده کوي ترڅو خپل کلیدي استادان د ځېړنې د رهبرانو په توګه وروزي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه د استادانو د ظرفیت لوړوني په منظور روزنیز پروګرامونه چمتو کوي ترڅو د اکثرا استادانو د ځېړنې مهارتونه لوړ شي.

## اووم معیار (۷): استادان او مامورین

**۷/۱ علمي ظرفیت/ کادر**

د لوړو زده کړو مؤسسه د خپلو علمي پروګرامونو د تطبیق په خاطر پر شرایطو برابر استادان مقرروي .

لوړو زده کړو مؤسسه کولای شي روښانه کړي «چې د خپلو ټولو تحصیلي پروګرامونو لپاره یې په کافي شمېر په شرایطو برابر استادان استخدام کړي دي».

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه باید د خپل تطبیقي پلان په چوکاټ کې د استخدام یو پلان ولري – کوم چې به څرګندوي چې اوسنی او راتلونکي علمي اړتیاوې( علمي کادر) به څرنګه پوره کوي.

**۷/۲ غیر علمي ظرفیت/ کادر**

د لوړو زده کړو مؤسسه یو شمېر مامورین چې د مناسبو مهارتونو لرونکي وي، استخداموي ترڅو د یاد بنسټ غیر علمي چارې پر مخ بوځي.

د لوړو زده کړو مؤسسه کولای شي روښانه کړي «چې د خپلو ټولو تحصیلي پروګرامونو لپاره یې په کافي شمېر په شرایطو برابر مامورین استخدام کړي دي».

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو مؤسسه د خپل تطبیقي پلان په چوکاټ کې د استخدام یو پلان لري – کوم چې به څرګندوي چې اوسنی او راتلونکي اداري اړتیاوې( مامورین) به څرنګه پوره کوي.

**۷/۳ د استخدام پالیسی او د هغې بهیرونه**

د استخدام، کاري حجم ځانګړتیا او د کارکوونکو د ترفیع اړوند ټولې پالیسیانې او بهیرونه د وړتیا او شفافیت پر بنسټ ولاړې دي.

د لوړو زده کړو موسسه له خپلو ټولو کارکوونکو لپاره په ټولو برخو کې روښانه پالیسیانې او بهیرونه لري او ټول کارکوونکي به ورته لاسرسی لري.

پر دې سربېره، د لوړو زده کړو موسسه د خپلو کارکوونکو د فعالیتونو د مستند کولو لپاره سیستمونه لري – کوم چې به روښانه کوي چې ددې پالیسیانو او بهیرونو څخه پیروي تر سره کیږي.

### ۷/۴ د اجرااتو ارزونه: استادان

د ټولو استادانو اجراات هر کال ارزول کېږي؛ البته یاده چاره د دې لپاره تر سره کیږي تر څو د هغو په کاري کیفیت کې اصلاحات را منځته شي.

د لوړو زده کړو موسسې د ټولو استادانو د ارزونې په موخه د کلنیو اجرااتو د ارزونې بهیر را منځته کړی او په یاده ارزونه کې د محصلینو له فیډبک څخه هم استفاده کېږي او د اصلاح وړ برخې پکې په ډاګه کیږي.

سربېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه د اجرااتو د ارزونې په بهیر کې د استادانو د درسي ټولګیو د مشاهدو څخه هم استفاده کوي او ډاډ ترلاسه کوي چې ټول استادان په خپل کاري پلان کې «د ځان د پرمختګ لپاره» هم پلان لري.

### ۷/۵ د اجرااتو ارزونه: اداري کارکوونکي

د اداري کارکوونکو اجراات د هغوی د کاري کیفیت د ښه والي په موخه هر کال تر ارزونې لاندې نیول کیږي.

لوړو زده کړو موسسې د ټولو اداري کارکوونکو د ارزونې په موخه د کلنیو اجرااتو د ارزونې بهیر را منځته کړی – چې په دې ارزونه کې د کارکوونکو نظریات تر لاسه او د اصلاح وړ برخې پکې په ډاګه کیږي.

سربېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه به ډاډ ترلاسه کوي چې ټول اداري کارکوونکي په خپل کاري پلان کې د «ځان د پرمختګ لپاره» هم پلان لري.

### ۷/۶ مسلکي ظرفیت لوړونه

د لوړو زده کړو موسسه د ټولو کارکوونکو د مسلکي ظرفیت لوړونې اړتیاوې په ډاګه کوي او هڅه کوي چې په دې برخه کې کوټلي ګامونه پورته کړي.

د لوړو زده کړو موسسه د روزنیزو اړتیاوو د پېژندنې په موخه یوه پروسه رامنځته کړې او د هغې لپاره د مسلکي ظرفیت لوړونې پلان هم لري.

سربېره پردې، د لوړو زده کړو موسسه به د مسلکي ظرفیت لوړونې په موخه یو آمر په دنده ګماري – چې د مسلکي ظرفیت لوړونې د ټولو چارو د تنظیم مسوولیت به په غاړه لري.

### ۷/۷ علمي ازادي

علمي ازادئ پراختیا پیدا کړې او د قانون پر اساس خوندي ساتل کېږي.

د لوړو زده کړو موسسه به هڅه کوي چې ټولو محصلین او کارکوونکي د علمي آزادئ څخه خبر دي - کومه چې د لوړو زده کړو په قانون کې تسجیل شوې ده.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه د یوه میکانیزم لرونکې ده چې د قانون له مخې تعریف شویو ازادیو څخه څارنه او نظارت کوي.

### ۷/۸ شکایتونه، ناخوښي او د انضباطي طرزالعملونه

د لوړو زده کړو موسسه شکایتونه، ناخوښی، نظم او ډسپلین په اغېزناک ډول تنظیم او اداره کوي.

د لوړو زده کړو موسسي داسي طرزالعملونه را منځته کړي او د هغي څخه پیروي کوی چي د مقرارتو او لایحي پر بنسټ شکایتونه، ناخوښی او انظباطي مسایلو ته په ښه توګه رسېده ګي کوي.

پر دې سربېره، د لوړو زده کړو موسسه د دغو طرزالعملونو د څارني ، تطبیق او ارزوني په موخه د یوه میکانیزم لرونکی ده.

## اتم معیار (۸): د محصل تجربه

### ۸/۱ د محصلینو په اړه معلومات

د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو په اړه د معلوماتو او اطلاعاتو راټولولو له یوه سیستم څخه برخمنه ده.

د نوم لیکني، جذب او پرمختګ او د لاسته راوړونو په اړه لومړني معلومات راټول، ثبت او د پلان جوړوني او ارزوني په موخه د لاسرسي وړ دي.

پر دې سربېره، د پلان جوړوني یو دفتر رامنځته کړئ او هلته یو آمر په دنده وګمارئ چي د محصلینو په اړه د معلوماتو د راټولولو، تحلیل او تنظیم مسوولیت پر غاړه ولري.

### ۸/۲ د محصلینو فیډبک یا غبرګون

د لوړو زده کړو موسسه داسي بهیرونه لري چي د هغي لارې د محصلینو فیډبک او نظریات راټولوي او د هغي څخه استفاده کوي ترڅو د اصلاح وړ موارد را په ډاګه کړي.

د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د غوښتونو او اړتیاوو د ښه درک او پوهي لپاره د سروې ګانو او نورو لارو چارو پر مټ له هغوی سره سلا او مشوره کوي.

پر دې سربېره، د لوړو زده کړو موسسه په مناسبو کمېټو او د پلان جوړوني په بهیرونو کي د محصلینو استازو ته برخه ورکوي او د موسسي د فعالیتونو په اړه محصلینو ته خبرتیا ورکوي او په هغي کي هم د هغوی سلا او مشوره اخلي.

### ۸/۳ د فارغینو مهارتونه

د لوړو زده کړو موسسي هغه مهارتونه مشخص کړي دي چي غواړي هغه د پوهنځیو فارغان ترلاسه کړي تر څو هغوی وکولای شي په خپلو دندو کي بریالي و اوسي.

د لوړو زده کړو موسسي له استخدام کوونکو مراجعو سره سلا او مشوره کوي تر څو هغه مهارتونه په نښه کړي چي فارغان د کار په ډګر کي هغي ته اړتیا لري.

پر دې سربېره، د لوړو زده کړو موسسي استخدام کوونکي مراجعي په فعاله توګه د محصلینو د مهارتونو د رامنځته کولو په برخه کي ښکیلوي.

### ۸/۴ د محصلینو ملاتړ او خدمتونه

د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د اکاډمیکو او شخصي اړتیاوو د پوره کولو په موخه خدمتونه وړاندې کوي او د هغي څخه ملاتړ کوي

د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو لپاره ملاتړ کوونکي او مشورتي خدمتونه چمتو کوي تر څو د هغوی شخصي او اکاډمیکي اړتیاوې پوره کړي.

همدارنگه د لوړو زده کړو موسسه د دندې اړوند خدمتونه رامنځته کوي تر څو له محصلینو سره د پلان جوړوني او کاري فرصتونو په تعقیب کې مرسته وکړي .

**۸/۵ عدل او مساوات**

د لوړو زده کړو موسسه به ډاډ حاصلوي چې له ټولو محصلینو سره عادلانه او یو ډول چلند کیږي – پرته له دې چې جنسیتي، ټولنیز، مذهبي، فزیکي او نورو توپیرونو ته پکې پام وشي او له یو شان حقونو برخمن دي.

د لوړو زده کړو موسسي داسي میکانیزمونه جوړ کړي دي چې پر عدالت او مساوات ولاړ دي او هغه یې د خپلو ټولو ښکیلو خواوو د استفادې لپاره وړاندې کړي دي.

پر دې سربېره، د لوړو زده کړو موسسي داسي یو کس استخدام کړی – کوم چې به له تحصیلي چارو څخه نظارت کوي او علمي شورا ته به د څارني کلنی راپور چمتو کوي.

**۸. ۶ انضباطي پالیسی او طرزالعملونه**

د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو لپاره د نظم او ډسپلین د یوې پالیسی لرونکي ده – کومه چې محصلینو ته ورکول کیږي او د هغې تطبیق د اړونده کمېټې لخوا څارل کیږي.

د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د نظم او ډسپلین لپاره یوه پالیسي لري چې د انضباطی طرزالعملونو جزئیات وړاندې کوي – د یادې پالیسی څخه د ډسپلین کمېټه د پوهنځي یا موسسي په کچه څارنه کوي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو په مشوره د نظم او ډسپلین پالیسي جوړوي او د اړتیا په صورت کې محصلین هم په انضباطي چارو کې شریکوي.

## نهم معیار (۹) : د کیفیت تضمین او لوړونه

**۹/۱ سازمان او اداره**

د لوړو زده کړو موسسه ډاډ حاصلوي چې د کیفیت تضمین او کیفیت لوړوني پالیسیاني او بهیرونه د موسسي په ټولو سطحو کې د قواعدو او لایحې سره سم په اغېزناک ډول تنظیم او اداره کیږي.

د لوړو زده کړو موسسي/ پوهنځي په سطحه د کیفیت لوړاوي د کمېټې د «کیفیت لوړاوي او کیفیت لوړوني بهیرونو په ښه او پیاوړې توگه اداره او رهبري کوي».

پر دې سربېره، د کیفیت لوړاوي په کمېټو کې د منظم حضور له لارې، د لوړو زده کړو موسسي مشرتابه د کیفیت لوړاوي او کیفیت لوړوني په فعالیتونو کې مستقیما دخیل وي او په دې برخه کې کار کوي تر څو د کیفیت لوړاوي پر وړاندې خنډونه له منځه یوسي.

**۹/۲ منابع**

تحصيلي بنسټ هڅه کوي چې د کيفيت لوړاوي اړوند پاليسيو د تطبيق او د هغو د ارتقا په موخه کافي سرچينې او اسانتياوې برابروي.

د لوړو زده کړو موسسې بايد د کيفيت لوړاوي کمېټې يو دفتر رامنځته کړي ترڅو د موسسې، پوهنځي او ډيپارټمنټونو په کچه د کيفيت څخه ملاتړ وکړي.

بر سېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسې د کيفيت د لوړاوي ياد دفتر بايد د چارو د نظارت لپاره يو آمر استخدام کړي تر څو د کمېټو د کارونو او کيفيت د تضمين د پاليسيو او بهيرونو څخه څارنه وکړي.

### ۹/۳ بهيرونه

د لوړو زده کړو موسسه به د کيفيت لوړاوي د داسې بهيرونو څخه استفاده کوي چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا به وړانديز شوي وي او هغه به په موثره توګه تطبيقوي.

د لوړو زده کړو موسسې د کيفيت لوړاوي کمېټه کولای شي چې روښانه کړي چې د کيفيت لوړونې بهيرونه د لوړو زده کړو موسسې په کچه پلي کيږي.

بر سېره پر دې، ، د کيفيت لوړاوي امر به اطلاعات راټولوي ترڅو د هغې د ښه تطبيق په موخه د پوهنځيو ،څانګو او موسسې په کچه د کيفيت لوړاوي کمېټو ته راپور ورکړي.

### ۹/۴ کلتور

د لوړو زده کړو موسسه به ډاډ حاصلوي چې ټول استادان او کارکوونکي د کيفيت لوړونې ته ژمن دي.

د لوړو زده کړو موسسې د کيفيت لوړاوي کمېټه به اطمينان حاصلوي چې د استادانو لپاره اړين عامه پوهاوي او اړيکو ټينګولو په برخه کې روزنيز پروګرامونه دايريږي.

همدارنګه د ټولو اداري او علمي کادر غړو په انفرادي کاري پلانونو او موخو کې بايد د کيفيت لوړاوي ځانګړنې شاملې وي.

## لسم معيار (۱۰) : کتابتون او معلوماتي منابع

### ۱۰/۱ ظرفيت

د لوړو زده کړو موسسه د خپلو اکاډميکو پروګرامونو او څېړنو ترسره کولو لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ او کتابتون کافي منابع چمتو کوي.

د لوړو زده کړو موسسه د کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ منابعو ته لاسرسی لري چې د ماهرو او تجربه کارو کارکوونکو لخوا به چمتو کيږي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه د خپل ستراتيژيک پلان په چوکاټ کې د کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ د پراختيا لپاره يو پلان هم تر لاس لاندې لري.

### ۱۰/۲ اداره

د اداري او اکاډميکو موخو د لاسته راوړلو پخاطر د معلوماتي ټکناژۍ او کتابتون اړوند منابع په ښه توګه تنظيم او اداره شوي دي.

د لوړو زده کړو موسسې د کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ د مرکزونو لپاره یو یو امر ټاکلی دی او د کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ د چارو او پړاوونو د ښه تنظیم په موخه ډاډ رامنځته کوي ترڅو د یادو منابعو څخه په موثره توګه استفاده تر سره شي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسې یوه پروسه پیل او رامنځته کړې ترڅو پوهنځي او د کتابتون غړي د یو بل په همکارۍ کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ په سمه توګه تنظیم او اداره کړي او د هغې څخه لازمه استفاده وکړلای شي.

### ۱۰/۳ لاسرسی

د لوړو زده کړو موسسه به ډاډ حاصلوي چې استادان او محصلین «کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ منابعو» ته لاسرسی لري
.

کتابتون او د معلوماتي ټکنالوژۍ مرکزونه د استادانو او محصلینو پر مخ خلاص دي او لږ تر لږه په یوه اونۍ کې شپږ ورځې باید استادان او محصلین یادو مرکزونه ته لاسرسی ولري.

همدارنګه، د لوړو زده کړو موسسه به د آنلاین منابعو د رامنځته کولو لپاره یو پلان ولري ترڅو د محصلینو او استادانو د لاسرسي کچه لوړه شي.

### ۱۰/۴ ټریننګ/ روزنه

له کتابتون او معلوماتي ټکنالوژۍ څخه د سمې ګټې اخیستنې په موخه د استادانو او محصلینو لپاره روزنیز پروګرامونه جوړ او تطبیق کېږي.

د لوړو زده کړو موسسه د استادانو او محصلینو لپاره د معلوماتي ټکنالوژۍ له منابعو او کتابتون څخه د موثره ګټې اخیستنې په موخه روزنیز پروګرامونه چمتو کوي او هغه استادان چې په دې برخه کې روزنې ته اړتیا لري، هغوی ته به د ګډون زمینه برابروي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه به ډاډ حاصلوي چې د کتابتون کارکوونکي د تحصیلي نصاب په اړونده برخو کې روزل کېږي او دغه کار به هغوی ته زمینه برابره کړي چې د استادانو او محصلینو د اړتیا مطابق ګامونه پورته کړي.

## یوولسم معیار (۱۱): تدریس، معلوماتي تکنالوژي او تفریحي اسانتیاوې

### ۱۱/۱ تدریسي آسانتیاوې

د لوړو زده کړو موسسه د ښېرنې، تیوري، عملي زده کړو او د محصلینو د اړتیاو د پوره کولو په موخه کافي تدریسي آسانتیاوې برابروي.

د لوړو زده کړو موسسه د خپلو تحصیلي پروګرامونو د اړتیاو د پوره کولو لپاره په کافي اندازه تدریسي اسانتیاوې چمتو او خوندي ساتي.

پر دې سربېره، د لوړو زده کړو موسسه په خپل ستراتیژیک پلان کې د تدریسي آسانتیاوو د رامنځته کولو لپاره یو پلان **لري.**

### ۱۱/۲ معلوماتي ټکنالوژي

د لوړو زده کړو موسسه هڅه کوي چې خپلو استادانو او محصلینو ته د معلوماتي تکنالوژۍ په برخه کې یوه اغېزناکه او آپډېټ زېربنا یا بنسټ رامنځته کړي.

د لوړو زده کړو موسسه د معلوماتی تکنالوژۍ زېربناوی او نورې منابع په موثره توګه چمتو او خوندي ساتي – کومو ته چې استادان، محصلین او اداري مامورین اړتیا لري.

سربېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسي د معلوماتي ټکنالوژۍ د مرکز د کارونو د تنظیم، څارنې او پراختیا په موخه یو امر او څو کسه کارکوونکو ټاکلي دي.

### ۱۱/۳ د لیلیې او تفریح اسانتیاوې

د لوړو زده کړو موسسه به یوه مناسبه لیلیه چې ټولې اسانتیاوې او همدارنګه نور تفریحي امکانات ولري، د خپلو محصلینو لپاره چمتو کوي.

د لوړو زده کړو موسسه به د خپلو محصلینو د اړتیاوو پوره کولو په موخه د لیلیې او تفریح اسانتیاوې چمتو او خوندي ساتي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه به د املاکو یا تاسیساتو د ساتنې او څارنې په موخه یو امر استخداموي چې هغه به د ټولو فزیکي منابعو او امکاناتو د خوندیتوب، استفادې او پراختیا مسوولیت په غاړه لري.

### ۱۱/۴ خوندیتوب او سلامتیا

د لوړو زده کړو موسسې باید د استادانو او محصلینو لپاره خوندي او امن چاپېریال را منځته کړي.

د لابراتوارونو، دوکانونو، زهري موادو او پخلنځي لپاره د خوندیتوب لازم تدابیر په پام کې نیول کېږي. په دې اړه ټولو کارکوونکو او محصلینو ته د لازمو پالیسیانو په هکله پوهاوی او معلومات ورکول کېږي.

پر دې سربېره، له طبیعي پېښو او حادثو سره د مبارزې لپاره بېړني طرزالعملونه په پام کې نیول شوي دي.

### ۱۱/۵ امنیت/خوندیتوب

د لوړو زده کړو موسسې باید د استادانو او محصلینو لپاره خوندي او امن چاپېریال را منځته کړي.

د لوړو زده کړو موسسه د امنیت د ټینګښت په موخه د امریت په کچه یو مسوول کس ټاکي او په دې برخه کې د کافي کارکوونکو د موجودیت په اړه به داډ حاصلوي ترڅو امنیتي طرزالعملونه په دقیقه توګه تطبیق کړي. همداراز، باید داسې بهیرونه شتون ولري ترڅو آمنیتي طرزالعملونه په منظمه توګه مرور او اصلاحات پکې وارد کړي.

برسېره پر دې، د لوړو زده کړو موسسه داسې پلانونه لري ترڅو په بحراني یا د آمنیت د نشتون په وخت کې د پوهنتون چارو ته ادامه ورکړلای شي.